# آیا د خپل شکایت په هکله مرستې ته اړتیا لرئ؟

## که تاسې د روغتیا یا د تولنې د خدمتونو په هکله شکایت لرئ، مونږه دلته ستاسو د مرستې لپاره شته یو.

تاسې کولای شئ چې د روغتیا او تولنې د خدمتونو د شکایتونو کمیشنر(HCSCC) ته د جنوبي استرالیا د روغتیا یا د تولنې د خدمتونو په هکله شکایت وکړي.

**ولې شکایت وکړئ؟**

شکایتونه داسې فرصت دی چې:

- خپل نظر ورکړئ.
- خپلې اندیښنې حل کړئ.
- خدمتونه د ټولو لپاره خوندي او لا ښه کړئ.

هر څوک کولای شي چې د روغتیا او تولنې د خدمتونو د شکایتونو کمیشنر(HCSCC) د جنوبي استرالیا د روغتیا یا د تولنې د خدمتونو په هکله شکایت وکړي، د مثال په ډول:

د روغتیا خدمتونه:

- ډاکټران، نرسان، او نور د روغتیا اړوند مسلکي کسان؛
- روغتونونه او روغتیايي مرکزونه، د عصبي روغتیا د خدمتونو په شمول؛
- بدیل روغتیايي خدمتونه؛ او
- د مشورو خدمتونه.

د تولنې خدمتونه:

- د معیوبینو خدمتونه چې د NDIS لخوا څخه نه وي.

په عمومي توګه (HCSCC) د هغه شکایت په هکله مرسته کولای شي چې یو شی تر دوه کاله پخوا پورې هم شوي وي.

مهرباني وکړی که تاسې په دې مطمئن نه یاست چې کوم ډول خدمت په (HCSCC) پورې اړه لري کنه نو له مونږ څخه پوښتنه وکړی.

**شکایت څرنګه کولای شم؟**

<u>لومړی ګام</u>

- لومړی باید همغه خدمت ته شکایت وکړی.
- د مشکل د پیدا څخه وروسته باید ژر تر ژره شکایت وکړی.
- داچې څه باید وشي چې هر څه سم شي په دې هکله فکر وکړی.
- که تاسې اړتیا لری چې هغه خدمت څخه ګټه پورته کړی پداسې حال کې چې ستاسې شکایت ځای نیسي، د هغه څه په هکله چې تاسې ورته اړتیا لری خبرې ورسره وکړی.
- د ټولو بحثونو او خطونو یو نقل له ځان سره وساتئ.
- د همغه خدمت د وارندې کوونکي څخه پوښتنه وکړی چې ستاسې د شکایت په هکله ځواب درکړي چې څه کوي – تاسې ته باید په ۳۰ ورځو کې ځواب درکړي.

دوهم ګام

که تاسي خپل شکايت د همغه خدمت دوراندي کوونکي سره نشئ حل کولای، مهرباني وکړی او د HCSCC سره اړيکه ونيسی.

مونږ به:

- ستاسي خبري واورو
- معلومات درکړو او د نورو لارو چارو په هکله خبري درسره وکړو؛
- او ستاسي شکايت ته د ځواب ورکولو په هکله مرسته درسره وکړو.

**بيا به څه کيږي؟**

کميشنر کولای شي چي پريکړه وکړي چي ستاسي شکايت نورو لوړو مقاماتو ته يوسي.

د روغتيا او ټولني د خذمتونو د شکايتونو کميشنر(HCSCC):

- د روغتيا يا ټولني د خذمتونو په هکله شکايت کولو کي ستاسو د حق ملاتړ وکړي؛
- بي پري دی او د چا پلوي نکوي؛
- وړيا دی او شديداً راز دار دی؛
- ددي لپاره کار کوي چي شکايتونه د خذمتونو د کيفيت او خونديتوب د لا ښه توب لپاره وکارول شي.

- هغه څه چي (HCSCC) يي نشي کولای:

- د هغو شکايتونو په اړه چي د کور ورکولو، د خوراکي توکيو مشکلات، د کار موندلو موضوعات او د محکمو د پريکړو په هکله دي.
- د (HCSCC) به تاسي هغه چاته راجع کړي چي کولای شي ددي شکايتونو د حل کولو لپاره کار کوي.

**د HCSCC په هکله معلومات**

د روغتيا او ټولني د خذمتونو د شکايتونو کميشنر کولای شي چي په جنوبي استراليا کي د روغتيا او ټولني د خذمتونو په هکله ستاسو د شکايت په اړوند تاسي سره مرسته کولای شي.

مونږ په مستقل، بي پلوی، د عامه خلکو په ګټه او په وړيا توګه عمل کوو.

**د HCSCC سره خبري وکړی**

تيليفون: 9313 7117 (08) يا 007 232 1800 ( دجنوبي استراليا د اطراف ليني تيليفون)
تيليټايپ (TTY): 677 133 يا 677 555 1800( دجنوبي استراليا د اطراف ليني تيليفون)
ايميل: info@hcscc.sa.gov.au
ليک: Ground Floor, 191 Pulteney Street, Adelaide, SA, 5000
ويب پاڼه: www.hcscc.sa.gov.au
پته: Ground Floor, 191 Pulteney Street, Adelaide, SA, 5000
کاري ساعتونه: دوشنبه – جمعي: د سهار له ۹ بجو څخه د مازديګر تر ۵ بجو (شنبه / يکشنبه: بند)